

لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پیخلیک: لیندی / کال ۱۴۰۶ البردی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د پوی بهلول غوره پرېکړه

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پخښتی ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** لیندی / کال ۱۴۰۶

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

**پخښنتیٍ............................................................................ ۱**
**بسم الله الرحمن الرحيم ................................................... ۲**
**ليکي پوهه:.................................................................... ۳**
**لړليک ............................................................................ ٤**
**تراڼ (پيل، شروع، بريد)........................................................ ۵**
**د يادښتونو له پاره:............................................................... ۷**
**د پوی بهلول د مقبرې انځور:................................................ ۸**
**د پوی بهلول مقبره: ......................................................... ۹**
**کاروان سرای: ............................................................... ۱۲**
**کيسه، داستان: .............................................................. ۲۰**
**د چاپ شويو کتابونو لېست.................................................... ٤٤**
**د کار لاندې کتابونو لېست ................................................ ٤۹**
**د امکان او وخت په صورت کې.................................................. ۵۰**
**د پخښنتیٍ ځتې .............................................................. ۵۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

......................................

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیداېښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې و غوښتل یوه بل داستان (کیسه) چې د سپین ږیرو خلکو په وینا په غزني ولایت کې تېره شوې ده د ښکلو ماشومانو او تنکیو ځوانانو سره یې ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه
.......................................

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې وپيژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شريکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یادښتونو له پاره:

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوی بهلول مقبره د غزني ولایت زوړ ښارکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پوی بهلول مقبره:**

د غزني ښار په شمال کې د ښار د زړو منارونو په منځ او په هغې سیمې کې چې د زاړه ښار په نامه یادېږي، یوه مقبره ده چې خلک یې د پوی بهلول (بهلول دانا) په نوم یادوي.

دا مقبره یوه ځانګړی، عام زیارت دی او ډیری خلک ورته د سپېڅلي او مبارک په سترګه ګوري.

په هیڅ تاریخي کتاب کې د بهلول د حالاتو په اړه څه نه دي راغلي. خو!

په غزني کې یوه شمېر پوهان په دې اند دي چې هغه د سلطان محمود غزنوي ورور و او په هغه وخت کې د سلطانانو په نظر کې ډېر عزت، کرامت یې درلود او پاچاهانو هغه سره، ډېره مینه درلوده.

د غزنی خلک هم پوی بهلول د یوه نیک سړی په توګه یادوي او په دې باور دي چې هغه یوه تصوف، شاعر او د اصولو ماتونکی و.

د غزني یو شمېر پوهان په دې باور دي چې د پوی بهلول اصلي نوم امام زاهد و.

خو له دې امله چې یوه بل بهلول د اسلام په لومړیو وختونو کې یو له مشهورو فقهاوو، متلاشیانو او پوهانو څخه و او د غزنوي بهلول په دې ډګرونو کې له ده سره ډېر ورته والی درلود، نو په پوی بهلول مشهور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پوی بهلول غوره پرېکړه

.....................................

په ورته وخت کې یوه ډله خلک هم د پوی بهلول(بهلول دانا ) ته دیوان شعرونه منسوبوي.

که څه هم ویل کېږي چې شعرونه له لوړو عرفاني مفاهیمو ډک دي؛ خو هغه مغروره او نا بالغ ښکاري.

عبدالعلي فکوري؛ په غزني کې یوه فرهنګي فعال آوا خبري اژانس ته وویل چې دا شعرونه ډېر ضعیف او مغشوش دي او د پوی بهلول په علمي او ادبي دریځ کې نه شي راتلای.

غلام جیلاني جلالي په غزني کې یو بل فرهنګي فعال هم وایي، هغه کس چې په ۱۳۳۱ کال کې یې په کندهار ولایت کې د مطبوعاتو مسوول و، و ویل چې دا کتاب چا له هنده راوړی او اوس یې په لاس کې دی.

خو ښاغلی جلالي په دې برخه کې شک څرګندوي او وایي چې دی باور نه لري چې دا ډول کتاب دې بنسټیز وي.

د یا دونې وړ ده، چې د پوی بهلول مقبره په دې وروستیو کې د غزني د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا رغول شوې، پر سر یې شپږ متره ګنبد جوړ شوی او په ښکته برخه کې یې یوه لویه ډبره هم جوړه شوې ده.

په همدې حال کې د غزني د تاریخي مسایلو د یو شمېر څېړونکو په اند د غزنویانو د دورې اړوند په تاریخي اثارو کې یو بل بهلول هم شته چې د غزني د سلطان محمود ورور ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

.......................................

د سلطان محمود د ورور بهلول مقبره د (بهلول) په نوم په يوه مشهور کلي کې شتون لري.

خو د بهلول دانا (امام محمد زاهد) مقبره د غزني په زاړه ښار کې د يوې غونډۍ پر سر ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کاروان سرای:**

کاروانسرای، په منځني ختیځ کې، د هوټلونو یا میلمستونونو ته اشاره کوي چې د کاروانانو د آرامۍ له پاره په لوی ځای کې دي.

ډیری وختونه، مسافر په دې ډول میلمستون کې د شپې له پاره ودرېږي چې لوی انګړ لري.

یوه لوی کاروانسرای تیم بلل کېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

.......................................

په ساده تعریف کې، کاروانسرای هغه ودانۍ ته اشاره کوي چې کاروان په کې ځای په ځای شي او معمولا په پلان کې مربع یا مستطیل شکل ولري.

د ننوتلو لوی او لوړ پوړ سره، معمولا ساده دیوالونه لري چې کله نا کله په پای کې باد ماتونکي وي یوه دهلیز چې د حیاطې محراب سره چې د ننوتلو او داخلي انګړ په مینځ کې شتون لري د بار وړونکو حیواناتو د ځای په ځای کولو له پاره کافي ځای چمتو کړي.

په پورته یاد شوي پلیټ فارم کې چې د دې انګړ په شاوخوا کې ځای پرځای شوي، داسې آرشیفونه شتون لري چې د داخلي توضیحاتو توضیح کوي.

د دوی تر شا، کوچني خونې (کوټې یا حجرې) د مسافرینو ځای په ځای شوې دي.

په دوه پوړیزه کاروانسرایونو کې، ښکته حجرې د توکو ذخیره کولو له پاره کارول کېدې او پورتنۍ خونې د مسافرینو د کورونو له پاره کارول کیږي.

د کاروانسرای په جوړولو او بیا رغونه کې ترټولو ښه دوره د صفوی دوره ګڼل کېدی شي.

په همدې موده کې شاه عباس اول د خپل تکتیک په پام کې نیولو سره د وربښمو د لارې د بیا جوړولو او ژوندي کولو پرېکړه وکړه او د کاروانسراې بیا راژوندي کول یې د دې کار یوه اړتیا وګڼله.

څېړونکي دا مسله یوه له لاملونو څخه ګڼي چې ډېری کاروانسرایونه د شاه عباسي کاروانسرای په نوم پیژندل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرصورت، دا ممکنه ده چې ځینې بیا رغول شوي کاروانسرایونه د صفویه کاروانسرای څخه مخکې وي.

د صفویانو په دوره کې د کاروانسرایونو په منځ کې د شاه عباسي کراج کاروانسرای دی چې د شاه سلیمان صفوي په وخت کې د ۱۰۷۸ او ۱۱۰۹ ترمنځ جوړ شوی و.



**د هرات کاروان سرای انځور د مفکورې ورکولو په اړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د هرات کاروان سرای انځور د مفکورې ورکولو په اړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د هرات کاروان سرای انځور د مفکورې ورکولو په اړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

......................................



**د هرات کاروان سرای انځور د مفکورې ورکولو په اړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د هرات کاروان سرای انځور د مفکورې ورکولو په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

......................................



**د هرات کاروان سرای انځور د مفکورې ورکولو په اړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کیسه، داستان:**

په پخوا پېر کې د غزنی په ولایت کې لکه نورو سیمو، ولایتونو، ولسوالیو او سیمو کې ډېر مشهوره کاروان سرایونه وو.

یوه هم د هغو له جملې څخه د غزنې ولایت کاروان سرای وه.

د اوښانو کاروانونه (کتارونه) کوم چې به د ختیځو هېوادونونه لکه چین او هند نه لوېدیزو هېوادونو لکه:

ایران، ترکیه او نورو عربی هېوادونو ته به تلل، بېرته راتل او التـه به دېره کېدل.

دا کاروانونه به له یوې سیمې نه بلې سیمې ته هم، تلل.

د غزنی کاروانسرای د هوتل ډوډۍ هم خوندوره اومشهوره وه.

ټولو به د هغه کاروانسرای صفت (توصیف) کوه.

د کاروانسرای مالک یا صاحب هم نیک سړی و.

یاد کاروانسرای د غزني ولایت د اوسنی مرکز نه دوې زره متره د مقر ولسوالی خوا، پروت (شتون) درلود.

اوس د هغه کاروانسرای نه، کومې نښې او نښانې، نه په سترګو کېږي، خو د خلکو په وینا دا کاروانسرای د سلطان محمود غزنوی تر دورې پایه پورې شتون درلود.

کوم وخت چې غوریانو پر غزني ولایت یرغل وکړ، دا کاروانسرای هم د غوریانو لښکرو له خوا وسوځول شو.

بیا په بارانو او واورو کې د هغه کنډوالې هم له منځه لاړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

......................................

د تجارانو قافلی به الته، څو شپې کوې.

دغزنی ولایت مشهوره کوچ، پېروی او پنېر به هم الته په پرېمانه توګه موندل کېده او خرڅېده.

په لسګوونه چرګان به هم الته ساتل کېدل او هګۍ به يې پر تجارانو او مېلمنو پلورل کېدې.

ځينو به هګې اخيستې او له ځانه سره به يې وړې چې د غزني د چرګانو نسل ډېر کړي.

د دوبي ورځې وي.

اوا(هوا) توده وه.

کاروان سرای تش ښکارېده.

د کاروان سرای کارکونکی هم د بې کارۍ له وجې، تنګ شوي وو.

د غرمې ډوډۍ وخوړل شوه.

د چای د څښلو د پاره پر تخت راټول شوو.

بیا سماواچي (سماوارچي) په یوه غټ چایجوش کې چای دم کړ.

چای يې د تخت سر ته، راوړ.

بيا يې خپل شاګرد ته غږ کړ.

الکه!

څو پیالې پرېمنځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې راوړه.

هغه و ویل:

سمه ده استاده!

هغه کوزه واخیسته او لوی تشت (طشت) کې یې اوبه توې کړې.

بیا یې پیالې په اوبو کې غوټه کړې.

هغه یې په لاسونو پرېمنځې.

بیا یې په پتنوس (پطنوس) کې کېښودې.

د پیالو اوبه یې لږ لږ توې کړې.

بیایې پیالې په پتنوس کې کېښودې او تخت ته یې وېوړې.

الته یې ټولې پیالې سر راسته کړې.

بیا سماواچي په پیالو کې چای اچونه پیل کړه.

پیالې ټولې ډکې شوې.

سماواچي شاګرد ته و ویل:

د چای پیالې و وېشه!

شاګرد و ویل:

سمه ده!

شاګرد به یوه، یوه پیاله اخیسته او د خلکو مخ ته به یې کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په پایله کې یې یوه پیاله خپلې مخې ته هم کېښوده.

په هغه وخت کې لکه نن، شیریني او چاکلېټ نه وه.

یوازې د بورې کند(قند) چې مخروط ته ورته وه، پیدا کېده او رواج یې درلود.

هغه قند واخیست او د څټک سره یې میده (مات) کړ،بیا یې غابونو کې کېښود او د هر درې کسوو مخې ته یې کېښود.

چای و څښل شو.

بیا غورو دوام و مونده.

ټوکې ټکالې روانې وې.

چا به د یوه غره او بل به د بل غره خبرې کوې.

خندا هم روانه وه.

مازیګر بیا ماښام شو.

د کاروانسرای دروازه وتړل شوه.

لمنځونه ادا کړل شوو.

په دې وخت کې د پوې قافلې د اوښانو د زنګولې غږ، تر غوږ.و شوو.

بیا د کاروانسرای مسول بام ته وخوت.

شاوخوایې ننداره کړه.

د لمر خا ته خوا نه د اوښانو قطار د زنګولو آواز را ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوا(هوا) روښانه او د ديارلسمې سپوږمې وه.

هغه الته ودرېد.

د قطار په ننداره شو.

د لرې نه د اوښانو لوی کتار(قطار) را څرګند شو.

هغه ورو، ورو د کاروان سرای خوا ته روان وه.

کتار ورو، ورو نږدې کېده.

هغه د رستورانټ (هوټل) مشر ته و ويل:

کتار را روان دی.

د پخلي بندوبست وکړه.

هغه و ويل:

سمه ده صيب!

چرګان به حلال او هګۍ به پخې کړو.

لمړی بايد پوی شو څو کسان دی؟

څو کسه يې ډوډۍ خوري.

مونږ د کاروان له پاره هرڅه لرو.

يوازي هغوی دې امر وکړي.

هغه د بام په سر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

.......................................

کاروان کاروانسرای ته نږدې شو.

اوښان د کاروانسرای دروازې تر څنګ ورسېدل.

دروازه وان منډه کړه.

هغه دروازه خلاصه کړه.

ساربان کاروانسرای ته، ننوت.

اوښان هم یوه د بل پسې کاروانسرای ته ننوتل.

بیا کسان له اوښانو پیاده شوو.

اوښان یې د کاروانسرای دیوال څنګ ته وتړل.

بیا د کاروانسرای خدمتګار اوښانو ته واښه واچول.

بیا یې په اوخورنو کې په سلواغو(ډولو) کې اوبه هم واچوې.

د کاروان کسان او تجاران هوټل ته ننوتل.

بیا هوټلي هغو ته و ویل:

پر تخت کښېنئ!

هغوی پر تخت کښېناستل.

د هوټل شاګرد هغوی ته چلمچي او لګن راوړ او د مېلمنو پر لاسونو یې اوبه واچوې.

ځینو نورو یې خپل مخونه هم، پرېمنځل.

چا بیا کوزې واخیستې او اودسونه یې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

.......................................

هر چا به د خپلې خوښې کتغ پرمایښت (فرمایش) ورکوه.

چا به شیدی او چا به سره کړي چرګان پرمایښت ورکاوه.

څه وخت تېر او دوډۍ تیاره شوه.

څو، څو کسه به سره غونډېدل او د دستر خوان شا (څټ) ته کښېناستل.

ټولو د ډوډۍ پر خوړو پیل کړ.

سماواچې هم په سماوار کې لرګي واچول، تر څو د ډوډۍ نه وروسته چای تیار وي.

ډوډۍ وخوړل شوه.

چایچي هم غږ کړ.

سماور جوش دی!

بیا د سماواچي شاګرد د چای پرمایښت واخیست.

چا ته یې شین او چا ته یې تور چای وېوړ.

چای څښل پیل شوو.

کیسې او د سبا ورځې پلان جوړ شو.

بیا چای وڅښل شو.

شپه جوړه او ټول بیده شوو.

سهار وختي له خوبه پاڅېدل.

چا اودسونه او چا هم لمونځونه وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه نورو د خپل رسم او رواج سره سم عبادتونه پیل کړل.

چا به د لمر او چا به د سپوږمۍ عبادت کاوه.

مګر مسلمانانو د پاک خدای عبادت کوه.

سهار چای سماواچي تیار کړی و.

شیدی، غزني پنیر، پیروی او د چرګو وېشلوې هګۍ هم تیارې وې.

خلکو د سهارچای پرخوړو پیل کړ.

خوراک نه وروسته به هر کس خپلې پیسې ورکوي.

د مسافرو په منځ کې یوه مسلمان تجار چې نوم یې سلمان و، هم شتون درلود.

هغه د خپل سهار چای ایشولې هګۍ او د چرګ کباب پرمایښت ورکړی و.

د هغه پرمایښت څه وځنډېد.

څه ځنډ وروسته کسانو پر تګ پیل کړ.

ټولو خپل حسابونه تصفیه کړي و.

پر سلمان څه ناوخته شوه.

غوښتل یې خپل حساب تصفیه کړي.

په دې وخت کې سماواچي د باندې وتی و.

هغه څه انتظار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر هغه ژر را نه غی.

د هغه حوصله تنګه شوه.

د کاروان نه پاتې کېدل هم ناشونی و.

بیا له ځایه پاڅېد او پرخپل اوښ کښېناست.

د کاروان سرای نه و وت.

اخوا دېخوا يې وکتل.

هوټلي يې پر سترګو ونه لګېد.

بیا په زړه کې يې و ویل:

بل ځل چې راغلم د هغه پیسې به ورکړم.

بیا قافلې پسې روان شو.

څنډ وروسته يې قافله ومونده او د هغې سره یوه ځای شو.

هغوی مخ پر لوېدیځ حرکت کاوه.

لمړی هغوی ایران بیا شام او یمن ته ورسېدل.

الته څو میاشتې په خپلو راکړې ورکړې (تجارتي) کارونو بوخت شوو.

خپل توکې يې خرڅ او د هغه ځای نه يې نور مالونه، واخیستل او پراوښانو يې بار کړل.

بیا قافله وتړل شوه او بېرته د افغانستان پر لور يې حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی لمړی ایران بیا افغانستان خاورې ته ننوتل.

په مزل، مزل غزني ښار ته ورسېدل.

ټکنده غرمه وه.

اوا(هوا) سړه وه.

قافله بیا د غزنی نامتو(مشهور) کاروان سرای ته ننوتل.

اوښان يې د دېوال تر څنګ وتړل.

بیا کسان ټول، تخت سر ته لاړل.

هر چاه به خپل د خوښې پرمايښت ورکاوه.

هوټلي او سماواچي به پرمايښتونه اخیستل او د مېلمونو غوښتونو پر بنسټ به يې خوراک جوړاوه.

سلمان بیا خپل پرمایښت ورکړ.

سورکړی چرګ او ويشولي هګۍ.

هوټلی د هغه د خوښې پرمابښت جوړ او هغه ته يې وړاندې کړ.

هغه هم پر اشتها سره خپله د غرمې ډوډۍ وخوړه.

بیا يې شین چای وڅښه.

د سلمان په یاد راغی چې هغه د هوټلی نه پوروړی دی.

بیا يې هوټلی ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې کېدای شي چې یوه کس دلته ډوډۍ خوړلې وي او پیسې یې نه ورکړي.

هغه و ویل:

نه!

داسې نه شي کېدای.

زما په اند داسی کس نه شي پیدا کېدای.

بیا سلمان و ویل:

که چېرې داسې کس پیدا شي څه ور سره کوې؟

هغه و ویل:

ټوکې مه کوه.

داسې بې حافظې نه یم.

سلمان اخوا دېخوا وغړېد.

خو!

په یاد یې نه شو.

بیا سلمان و ویل:

شپږ میاشې د مخه زه د کاروان سره راغلی وم.

چرګ کباب او اېشولې هګۍ مې، پرماېښت و.

سهار چای مې وڅښل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا غوښتل مې ستا حساب تصفیه کړم.

خو ته مې ونه لیدې.

کاروان پر حرکت پیل کړ.

زه هم ناچاره وم د هغو پسې مې حرکت وکړ.

ستا پور پر ما پاتې شو.

اوس غواړم هغه پور او د نن ورځې د غرمې ډوډۍ دواړه یوه ځای درکړم.

چې د یوې خوا ستا حق ادا او زما وجدان په کراره شي.

هوټلي و ویل:

سمه ده!

زه به یې حساب کړم.

هغه ګوتې وشمېري.

بیا یې سوچ وکړ.

بیا یې ګوتې وشمېرې.

هغه ته یې و ویل:

پوره پنځه سوه روپۍ د تېر وخت پیسې راکړه.

د نن ورځې حساب به مخکې ستا د وتو نه وشمېرم او واخلم.

سلمان و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څنګه کېدای شي؟

دومره پیسې د یوه خوراک نوډۍ؟

هغه و ویل:

ستا چرګ خوړلی، که چېرې ما هګۍ د چرګې لاندې ایښې وای اوس به ما شپېته چرګان درلودل.

که هرې چرګې د ورځې یوه هګۍ اچوی د ورځې شپېته هګۍ کېدې.

که یوسلو اتیا هګۍ په شپږ میاشتو کې ضرب کړو، نولې هګۍ یوه زرو اتیا کېدې.

اوس که دواړو پیسې ضرب او سره جمع کړو، تر حساب کړو پیسې هم ډېرېږي.

ما خو ستا مراعات وکړ.

بیا سلمان و ویل:

دا خو عدالت نه ده؟

ته څه وایې؟

بیا هوټلی د کاروانسرای نورو کسانو ته غږ کړ.

هغوی راټول او د هوټلي حساب یې په ځیر سره وڅېړه.

بیا هغه و ویل:

زه پر حق یم که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو و ویل:

هوټلي صیب!

تر پر حق یې.

دا تجار باید تا ته پنځه سوه پیسې درکړي.

سلمان په غصه شو او ویې ویل:

دا پرېکړه نه منم.

بیا هغه و ویل:

مونږ په ښار کې یوه اوقي (کاکه) لرو.

هغه به را وغواړو.

هر څه چې هغه فیصله وکړه، دواړه به یې و منو.

سلمان و ویل:

سمه ده!

هغه را وغواړه.

د کاروان سرای هوټلی یوه ځوان ته و ویل:

آس واخله او د ښار کاکه دلته حاضر کړه.

هغه آس واخیست او د کاروانسرای نه د باندې شو.

هغه یې و موند او له ځانه سره یې راوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هوټلي د هغه په مخ کې خپله حق الزحمه وشمېره او هغه ته یې و ویل:

پرحق یم او که نه؟

هغه و ویل:

هوټلي پر حق دی.

تجار باید هغه ته پنځه سوه روپۍ ورکړي.

سلمان په غصه شو او ویې ویل:

دا بې انصاپي (انصافي) ده.

زه یې نه منم.

دا قضیه باید قاضي فیصله کړي.

هوټلي و منه.

هغه و ویل:

سمه ده!

اوس به یوه کس هغه پسې ولېږو.

بیا یې هغه ځوان ته و ویل:

آس واخله او د ښار قاضي راوله.

ته به تېره شوې پېښې کیسه هغه ته کوې، تر څو ژر فیصله وکړي.

ځوان و منه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه آس واخیست او د کاروان سرای نه د باندې شو.

ګړی وروسته د قاضي کورته ورسېد.

دروازه يې وټکوه.

د قاضې ښځه دروازې ته راغله.

د دروازې تر شا (څټ) يې غږ کړ.

څوک دې په کار دی؟

هغه و ویل:

په کاروان سرای کې یوه لانجه لرو، قاضي صیب مو په کار دی.

هغې و ویل:

هغه خو د ښار نه د باندې د درې ورځو له پاره د قضې د اوارولو په موخه تللی دی.

کولای شې درې ورځې په ښار کې پاتې شې؟

هغه و ویل:

نه!

دا لانجه ډېره مهمه ده.

باید ژر اواره(حل) شي.

بیا هغې و ویل:

لېوني بهلول ته لاړ شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

......................................

هغه داسې قضې ژر اواروی.

بیا ځوان و ویل:

هغه به چېرې و مومم؟

د قاضي ښځې و ویل:

د ښار په لوی جومات کې.

ځوان و ویل:

سمه ده!

مننه کوم.

بیا آس ته پورته او د اس مخ یې د ښار لوی جومات خوا ته تاوه کړه.

آس یې چو کړ.

آس پر منډو پیل کړ.

څو دکیکې لا نه وې تېرې شوې چې د ښار لوی جومات ته ورسېد.

التبه د آس نه کوز شو.

آس یې وتاړه او د بهلول پوښتنه یې وکړه.

یوه کس ورته و ویل:

آغه (هاغه) کس بهلول دی.

هغه پر اوږې کچکول اچولی او تسبیح په لاس کې اړوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان بهلول ته نږدې او سلام یې ورکړ.

غوښتل یې و وایي لیونی بهلول ته یې؟

بیا یې خوله ونیوه او ویې ویل:

بهلول مې په کار دی.

هغه و ویل:

زه بهلول یم.

خلک مې په لېوني بهلول پېژني، خو زه لېوني نه یم.

ځوان ورته و ویل:

زه د قاضي کور ته تللی وم.

قاضي د کومې شخړې اوارولو د پاره ،له ښاره وتي وه.

زمونږ موضوع ډېره ضروري او وخت ډېر مهم وه.

بیا هغې ستا پته ما ته، راکړه.

دا دی زه هم راغلم.

بیا یې ځوان ته و ویل:

دلته، خوا سره مې کښېنه!

ځوان د هغه خواته کښېناست.

بهلول ترې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایه!

څه پېښه ده!

ځوان ورته تېره شوي شخړې کیسه بیان کړه.

هغه و ویل:

دا آسانه کار دی.

ځه چې ځو.

ځوان پر آس سپور او هغه ته یې و ویل:

د آس پر شا سپور شه!

بهلول و ویل:

زه پر خپل خره سپرېږم.

بیا ځوان و ویل:

خر ورو، ورو ځي.

ښه به داوي چې دواړه پر آس سپاره شوو.

التـه به ژر ورسېږو.

بهلول و ویل:

ته پر آس لاړ شه!

زه به پر خره ورو، ورو درشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به ژر ورسېږې او الته به و وایې چې:

قاضي د ښار نه بېرون د یوې قضې د اوارولو(حلولو) د پاره تللی دی.

هغه به هم، ژر ورسېږي.

ځوان ومنه !

بیا اس یې چو کړ.

آس په منډو شوو.

په څو دکیکو کې له سترګو پنا شو.

ځوان کاروان سرای ته ورسېد.

الته خلک د هغه او قاضي په انتظار وو.

ځوان کاروان سرای ته د ننه شو.

خلکو ځنګ ته ورسېد.

سلام یې ورکړ.

بیا هوټلي و پوښتل:

د ښارقاضي چېرې دی.

هغه وویل:

هغه د یوه مهم کار له پاره د ښار نه د باندي تللی دی یوه ګړۍ وروسته به راورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ویل:

سمه ده!

مونږ به لږ انتظار وکړو.

هغوی پر انتظار پیل کړ.

یوه کس د قاضي د ښار په موخه وټاکل شو.

هغه د کاروانسرای د یوه برج پر بام ودرېد او قاضي په ننداره شوو.

ګړی تېره شوه.

هوتلي غږ کړ.

قاضي ښکاري؟

کس و ویل:

قاضي خو نه ښکاری.

خو!

یوه کس پر خره سپور او د کاروان سرای خوا را روان دی.

بیا ځوان و ویل:

هغه قاضی دی.

ټول حیران شوو.

قاضی او پر خره سپور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجبه ده!

بيا بهلول ورو، ورو نږدې شو.

کاروان سرای ته ننوت.

سلام يې ورکړ.

خلکو هم د هغه سلام ته وعليکم و ويل.

بيا ځوان نږدي او دهغه د خره جلب يې ونيوه.

بهلول له خره کوز شو.

ځوان د هغه خر په نږدې مياوګي کې وتاړه.

بيا بهلول تخت ته وخوت.

په يوه کنج کې ودرېد.

هوټلي و ويل:

ښنګه ناوخته راغلې؟

زمونږ موضوع ډېره مهمه وه.

هغه و ويل:

ما په لاره کې يوه بله موضوع هم اواره کړه.

هغه داچې:

ښو کسانو ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

....................................

پلاني کس له ما نه غنم پور وړی دی.

بيا دوې کاله کېږي چې زه ترې ډېر غنم غواړم.

خو!

هغه يې نه را کوي.

بيا ما ور ته و ويل:

غنم و وپشوه (جوش کړه).

بيا هغه پر ځمکي وکره.

ستا غنم به ډېر حاصل او ستونزه به دې اواره شي.

هغو و منه.

زه اوس دلته راغلم چې ستاسو ستونزه هم اواره کړم.

هوتلی و ويل:

دا څنګه کېدی شي چې غنم واپشول شي.

بيا وکرل شي.

کرلو نه وروسته غنم شنه او حاصل يې ډېر شي.

بهلول په خندا شو.

هغه و ويل:

دا څنګه کېدای شي چې پوخ کړی چرګ او اېشولي هګۍ ژوندي شي او نسل يې زيات شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې هوټلي هک پک پاتې شو.

سر یې ټیټ واچوه او څه یې و نه ویل.

بهلول هم د دې خبرې ویلو سره د خلکو نه یې خدای پاماني واخیسته، پر خپل خره سپور او د کاروانسرای نه و وت.

سلمان هم هوټلی ته د تېر پاتې شوي پور څو پیسې ورکړې.

شپه یې الته د نورو کاروان ملګرو سره تېره کړه.

سهار یې د وخته خپله ټوله حسابي تصفیه او پر خپل اوښ سپور او دهند لورې یې د کاروان سره یوه ځای حرکت وکړ.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

.......................................

## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

.......................................

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماریٔ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جلد اول)
۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه کړۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥۲. د ژرنده ګري ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اېنجينېرانو(انجینرانو) له پاره
٥۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خوارہ ملګري (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٠. د يوې مياشتې **ناوې** (پښتو ناول)
٦١. دڅاڅکو هار (د يوه سړي لنډې کيسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېره (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غريبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [ديارلس کلنه فلسطينی انجلی تر نړېدلي ودانی (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتي / چوب ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاريګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عينک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زير خاک (نزديک معدن مس عينک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸٤. ساختمان های کانتینری
۸٥. کانتینري ودانۍ
۸٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
۸۷. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
۸۸. خړه بیزو(پښتو کیسه)
۸۹. سور تنور(پښتو ناول)
۹۰. سپین کارغه (پښتو داستان)
۹۱. لېونی لېوه (پښتو داستان)
۹۲. بندي مرغه (پښتو داستان)
۹۳. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
۹٤. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
۹٥. د پوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوی بهلول غوره پرېکړه

......................................

**د کار لاندې کتابونو لېست**

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# The best decision of wise Bahlol

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: December - Junury /2027/2028

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**